چمتو والي کچه

# د مبشر جان سندرغاړې مرغۍ



**ليکوال:** سېنتهانو سېدافون
**انځورګر:** نېوونګ سېنګساکون

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د مبشر جان کور ځنګل ته نږدې دی. هرې خوا ته مرغۍ دي چې ښکلې سندرې وايي. **"کووو-وو، کووو-وو،"** مرغۍ سندرې زمزمه کوي.



مبشر جان کښېني او د مرغيو د خوښۍ سندرې اوري.



هره ورځ، د هغه پلار د نورو مرغیو په نیولو کې د مرستې لپاره یوه مرغۍ ځنګل ته وړي.



هغه مرغۍ يو په يو نيسي او ټولې كور ته راولي.



د مبشر جان دوی کور له مرغیو څخه ډک دی. خو لږ وخت وروسته، د سندرو ویلو پر ځای هغوی په خواشینۍ سره اوسیلي کوي.



یوه ورځ، مبشر جان پاڅېږي؛ څه ګوري چې د هغه یوه مرغۍ هم سندره نه وايي.



هغه د هغه لارو چارو د لټولو هڅه کوي چې مرغۍ خوشحاله او بیا سندرې ویلو ته وهڅوي. هغه ورته وریژې ورکوي، خو هغوی هیڅ خوراک نه کوي.



”زما مرغيو، تاسې باندې څه شوي دي؟ آيا تاسې بېرته ځنګل ته تلل غواړئ؟“، هغه پوښتنه کوي.



مبشر جان له خپل پلار سره د خبرو کولو پرېکړه
کوي.



مبشر جان او پلار يې مرغۍ بېرته ځنګل ته وړي او خوشې کوي يې.



په داسې حال کې چې مرغۍ الوزي، هغوی بېرته له یوې مسکا سره مبشر جان ته ګوري.



بل سهار، مبشر جان اوري چې ټولې مرغۍ د هغه کور ته څېرمه په یوه ونه کې په خوښۍ سره سندرې وايي.
**"کووو-وو! کووو-وو!"**



## لاربښودونکې پوښتنې

1. مبشر جان چیرته ژوند کاوه؟ د هغې شاوخوا څه وه؟
2. د مبشر جان پلار څه کول؟
3. له هغې وروسته مبشر جان ته څه پیښ شول؟
4. مبشر جان د نورو مرغانو د بیا ځل سندرو ویلو لپاره څه تصمیم ونیوه؟ آیا هغه بریالی شو؟
5. که تاسو دې مبشر جان پر ځای وی څه مو کول؟